# احمد شاهی وطنه

له کوم فرها ر دی کړمه یا د تپی تپی وطنه
دخو بیما روطن فروش په لاس زخمی وطنه
ستا تول ښارونه اومحلونه اورکی وسوځیدل
اصیل بچیا ن دی فراری شو جنتی وطنه
پیغلو دی ونه لیدل مینه وربل سپینه کړله
د ا فراطی ملا د لاسه آفتا بی وطنه
ماغوښتل ستا له سم اوغرباغ اوبڼ جوړکړم
آرمان می نشو هیڅ ترسره آ ریا یی وطنه
ستا دزامنوهست وبود تول سا رقا ن ویوړل
ستا خزانی یی کړل لوټ شتمنی وطنه
پردی صفت ملا اشرار چي واکمن شو کله
په قاچاق ویوړل ستا اثا ر با ستا ني وطنه
ستا د ورانی لپا ره پلی د د ښمن امرکړ
سمسورباغونه دی کړخاوری نومیا لي وطنه
ستا پرګنو یی دراکتو په ګو لی مړ کړ
اوس دي مشران بد ناموی احمد شاهی وطنه
دا دپنجاب اودعرب د کور چوپړ خا د ما ن
کری تخمونه دنفاق ستاپه خلک بهشتی وطنه
زه مل داډه یم ستا د دښمن مخونه توربه شي
ځوانان میشته دی ستا په غیرکی توریالي وطنه

*** کریفلد جرمنی «2019-11-10»

## افغا نستا ن جوړوم

ځما نیت وه له وطن چي ګلستا ن جوړوم
افغا ن لپا ره دا وطن جنت نشا ن جوړوم
له سم اوغر ځنی ورک زاغ وزغن کوم
په غرور غونوکی یی ښکلی باغستان جوړوم
د غرو لمنو کی یي اونی دارغوان غرسوم
دآسیا په وچه کي نا می افغا نستا ن جوړوم
طالب ،ملا افراط تفریط له دی وطن ورکوم
کلو با ندېو کي انجمن د هوښیا ران جوړوم
دین له سیا سته بیلوم چی تعصب شي ورکه
قانونـي ژوند لپاره غونډه د پوها ن جوړوم
دمردسالار،توپک سالارځواک ته دپاي ټکي
په لراوبر کی د ښځو شوراګا ن جوړوم
شغل او دندي له یوسره اهل کا رته سپا رم
دکارمحل کی دکوچنیان ،کودکستان جوړوم
غلیم پری نښودم چي پلان می ترسره کړمه
آرمان په زړه شوپاتـي **مل** کوردافغان جوړوم

***** کریفلد جرمنی «11-11-2019»**

## شیخ ته

پرشیخ څه بلا شوی چی له مینه یی زړه تور دي
د حورو په انتظا ر د اوها م پر کشتـي سپور دي
د ښکلو د سرو شونډ و له بوسي ځنی پرهیزه
دخیال په تال زنګیري دژوند خوند ورځنی هیر دي

چي ښکلي يې  په مخ شي   خولو  کې خپل ډوبيږي
سپک سر اوبې مجا ل د مسجد  په کنج کې کورد ي
دنيا پرشيخ   وران دي   له   عقله   هم   پردي
په اوردتعصب سوځې په ماغذه کې يې شروشوردي
هرشې  د دې نړې (مل)  بې رنګ  ورته   ښکارې
جنت ته يي  تلوسه دي چي هرشي هلته سمسور دي
**** کريفلد  جرمنی «05-11-2019»